١٦ جوزا ١٣٨١

کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان

## د بشردوستانه او بشري حقونو د وضعيت د ارزونې رپوټ

# په کندز ښار کې وسله والې نښتې




انځور: د کندز بيارغاونه

د بشردوستانه او بشري حقونو د وضعيت د ارزونې رپوټ

# په کندز ښار کې وسله والې نښتې

**سریزه:**

کمیسیون د بشري حقونو د یو ملي بنسټ په توګه، د ۱۳۸۱کال د غبرګولي په ۱٦مه نیټه د افغانستان د جمهور رییس د فرمان او د بن د پریکړه لیک پر اساس تاسیس شو او په ۱۳۸۲کال کې یې د اساسي قانون په تصویب او په هغه کې د ۵۸ مې مادې په تسجیل سره قانوني بنسټ وموند او همدارنګه په ۱۳۸۴کال کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون په تصویب سره، د کمیسیون د عمل کړنلاره، موخې، واکونه، دندې او تشکیلات تعریف شول. د دې قانون د دویمې مادې پر بنسټ، " د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون " د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په چوکاټ کې جوړ شوی او په خپلواکه توګه فعالیت کوي. او د خپلو فعالیتونو په تر سره کولو کې، د اساسي قانون او د هیواد نور نافذه قوانین د خپل عمل بنسټ ګرځوي.[۱]

په هیواد کې د بشري حقونو د رعایت څارنه، د بشري حقونو تعمیم او ملاتړ، بشري حقونو او آزادیو ته د وګړو د لاسرسي د وضعیت او څرنګوالي څارنه، د بشري حقونو د سرغړونو او نقض د مواردو څیړنه او تحقیق او په هبواد کې د بشري حقونو د وضعیت د ښه کولو او پرمختیا په منظور د تدبیرونو نیول د کمیسیون له پنځه ګونو موخو څخه دي.[۲] د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو د قانون یوویشتمې مادې د کمیسیون عمده دندې او واکونه په ۳۵ فقرو کې تعریف کړي او رسمیت یې ور کړی دی. د بشري حقونو د نقض د مواردو او سرغړونو ارزونه او د سندونو، مدارکو، شواهدو او معلوماتو را ټولول، په دې ماده کې له درج شویو دندو او واکونو څخه دي چې د کمیسیون لپاره ټاکل شوی دي.

داخلي جګړې یو له هغو موضوعاتو څخه دي چې په هغو کې د بشري حقونو سختې او پراخې سرغونې تر سره

---

۱. د عدلیي وزارت، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون، د رسمي جریدې پرلپسې ګڼه: ۸۵۵، د خپریدو نیټه، ۱۳۸۴کال، دویمه ماده.

۲. همهغه ، پنځمه ماده.



د کندز ولایتي شورا

کیږي، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د پورته یادو دندو او واکونو پر اساس، همیشه په هیواد کې د داخلي وسله والو شخړو پر بهیر څارنه کړې او د شخړو او جګړو په جریان کې د بشري حقونو او بشر دوستانه حقونو د قضیو په ارزونه او څېړلو، د مطبوعاتي اعلامیو او رپوټونه په خپرولو، او په داخلي جګړو کې ښکیلو خواوو ته د سپارښتونو او وړاندیزونو په کولو سره یې، د وسله والو شخړو او تربګنیو په جریان کې د دولت او د وسله والو مخالفینو تر منځ د غیر انساني کړنو او تاوتریخوالو د کمولو کوښښ کړی دی.

زموږ اوسنی رپوټ د کندز پر ښار د دولت د وسله والو مخالفینو د برید د قضیې د څېړلو او ارزونې محصول دی چې په هغه کې د بشري حقونو او بشردوستانه حقونو د نقض پراخې او سختې سرغړونې تر سره شوې دي او له ځانه سره یې ناوړه او زړه بوګنونکې پایلې درلودلې. کمیسیون د دې پیښې د پېښېدو له وخته، د جګړې د تګلارې څارنه کړې او د بشري او بشردوستانه حقونو اړوند قواعد او اصول چې پر داخلي وسله والو شخړو ناظر دي، د خپلې ارزونې معیارګرځولی دی. ملکي مرګ ژوبلې، خپل سري او عمدي وژنې، جنسي تیری، شکنجه او وهل ټکول، د انساني سپر په توګه له ملکي خلکو څخه ګټه اخیستل، یرغمل نیول، د شخصي او عامه شتمنیو لوټل،

ټولیزو خدمتونو (خوړو، د څښاک اوبو، روغتیایي او ښوونیزو خدمتونو، برېښنا، تراسپورت او داسې نورو) ته پرلاسرسي باندې محدودیت وضع کول، د تلو راتلو او عامه لارو بندول، د بندیانو لپاره د تښتې زمینه برابرول، د کورنیو بېځایه کول، له جنګي اسیرانو سره ناوړه او غیر انساني چلند کول او اړو کسانو ته د بشردوستانه مرستو له رسولو څخه مخنیوی، د اوسني رپوټ له اصلي موضوعاتو څخه دي.

دغه رپوټ د هغو دقیقو معلوماتو پر بنسټ چې د کمیسیون د کارکوونکو د مستقیمو لیدو کاتو او څېړلو له لارې او له عیني شاهدانو، زیانمنو کسانو، قومي مشرانو، د روغتونونو له مسولینو، د بشري حقونو له فعالانو او رضاکارنو، په ولایتي شورا کې د خلکو له استازو، د امنیتي ارګانونو له مسولینو او نورو معتبرو او اړونده دولتي ارګانونو سره د تلیفون او مستقیمو مرکو له لارې ترلاسه شوی، چمتو او د خپریدو په حال کې دی. باید ووایو چې اوسنی رپوټ د کندز له قضیې څخه لمړی رپوټ وړاندې کوي. د کندز ښار د امنیتي وضعیت له ښه کیدو او د پراخه څېړنې د زمینې د برابرولو وروسته، به مفصل او مستند رپوټ، چمتو او نشر ته وسپارل شي.

**بشردوستانه نړیوال حقونه او د ښکیلو او دښمنو خواوو مسولیت:**

بشردوستانه حقونه، د قراردادي یا نړیوالو عرفي قواعدو ټولګه ده چې په وسله والو (نړیوالو یا غیر نړیوالو) شخړو




د بشرى حقونو د سيمه‌ييز دفتر اداری شعبه

کې د دښمنو خواوو پر کړنو حاکم وو او ټولې وسله والې خواوې د هغه په رعايتولو مکلفې دي. د بشردوستانه حقونو اصلي سرچينه، د ژنيو د ۱۹۴۹ کال څلور ګوني پيژندل شوي کنوانسيونونه دي. دغه څلو ر کنوانسيونونه د ۱۹۴۹ کال په اګست کې د هغه کنفرانس چې د جګړې د قربانيانو لپاره د کنوانسيونونو د جوړيدو په موخه په ژنيو کې تشکيل شو، تصويب شو. او ټول د ۱۹۵۰ کال د اکتوبر په ۲۱مه د اجرا وړ وګرځيدل. د نوموړي کنوانسيون د مقرراتو پر اساس، هر کنوانسيون بايد د دولتونو له خوا تصويب شي، له نافذيدو ٦ مياشتي وروسته او کم ترکمه د دوو دولتونو له تصويب سره، به د اجرا وړکنوانسيون شي.

په دغو کنوانسيونونو پورې اړونده دوه الحاقي پروتوکولونه وروسته تصويب شول چې يو د نړيوالو وسله والو شخړو له قربنيانو څخه د ملاتړ اړوند دی او بل د غير نړيوالو(داخلي) وسله والو شخړو له قربانيانو څخه د ملاتړ اړوند دی. دغه دواړه پروتوکولونه د ۱۹۷۷ کال د جون په اتمه نيټه په وسله والو شخړو کې د نړيوالو بشردوستانه قوانينو د پراختيا او بيا تاييد په مورد د ژنيو د ديپلوماتيک کنفرانس له لوري تصويب شوي او د ۱۹۷۸ کال د ډسامبر په ۷مه نيټه د اجرا وړ ګرځېدلي. د دې دوو پروتوکولونو د اجراکيدو لازم شرايط هم، کم ترکمه د دولتونو له لوري تصويب ذکر شوی دی.[۳]

په نړيوالو وسله والو شخړوکې، په پورته يادو کنوانسيونونو او د هغوی په الحاقي پروتوکولونو کې ټول درج شوي قواعد د رعايت وړ دي. خو د ژنيو د ۱۹۴۹ کال د کنوانسيونونو ګډه دريمه ماده او ذکر شوي دوه کنوانسيونونه، پر داخلي وسله والو شخړو باندې ناظر قواعد ټاکي او په داخلي وسله والو شخړوکې، په دې دوو سندونو کې پيش بيني شوي قواعد او نور نړيوال عرفي قواعد د پلي کيدو وړ دي او په دې ډول جګړو کې ټولې دښمنې خواوې، د دې ډلې قواعدو په رعايتولو مکلفې دي.

د بشردوستانه حقونو فاحش او جدي نقض، جنګي جنايت ګڼل کيږي چې د نړيوالې جزايي محکمې په واک کې دي. نړيواله جزايي محکمه په ۱۹۹۸کال تاسيس شوه او څلور جنايتونه: نسل وژنه، د بشريت پر ضد جنايت، جنګي جنايت او د (سولې په وړاندې) د تيري جنايت په بر کې نيسي. دغه محکمه هغو جنايتونو ته رسيدنه کوي چې د اساسنامې د اجراکيدلو له لزوم او له اساسنامې سره د هغه هيواد تر الحاق او د هغه دولت په مورد د اساسنامې د اجرا تر لزوم وروسته واقع شوي وي.[۴]

د افغانستان دولت په ۲۰۰۳کال کې نړيواله جزايي محکمه(ICC) لاسليک کړه او له هغې سره يوځای شو. دغه نړيواله محکمه هغو جنايتونو ته د رسيدنې صلاحيت لري چې په دې هيواد کې واقع کيږي، د افغانستان دولت کولای شي هغه قضيې چې رسيدګي نشي ورته کولای او يا د هغو د رسيدنې په برخه کې لازم امکانات نه لري، دې محکمې ته واستوي.

۳.ډاکتر حسين مهر پور،. د بشري حقونو نړيوال نظام، د اطلاعاتو خپريدل، ۱۳۹۰کال ، ۲۵۱مخ.

٤.ګريانګ ساک ګيتي شيايزری، جزايي نړيوال حقونه، ژباړه د يوسفيان په نامه، د سمت خپروني، د ۱۹۹۱کال دويم چاپ، ٦۲مخ.

## په کندز کې د بشري او بشردوستانه حقونو د نقض موارد

د ۱۳۹۴ کال د میزان ٦مه د شپې شاوخوا لس بجې د دولت د مخالفو وسله والو بریدونه له څو خواوو څخه د کندز پر ښار او شاوخوا سیمو پیل شول، په لومړي برید کې لومړی، دویمه او دریمه حوزه د دولت د مخالفو ځواکونو لاس ته ولوېدې. له څو ساعتونو وروسته جګړه ښار او په ښار کې دولتي او غیر دولتي ادارو ته وغځول شوه. په وروستيو مراحلو کې امنیتي حوزې، د ولایت مقام، د امنیې قوماندانۍ، د ملي امنیت ریاست او نورې ادارې د دولت د مخالفینو لاس ته ورغلې، چې ټول پرسونل یې هوایي ډګر ته وتښتېدل، همدارنګه د سې شنبې تر پایه د سردورۍ ښارګوټی چې د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون سیمه ییز دفتر هم هلته دی، د دولت د مخالفو وسله والو له خوا و نیول شو.

له تازه دمي ځواک سره، د افغان دولت امنیتي ځواکونو، د تلې له ۹مې نېټې څخه خپل بریدونه پیل کړل او د ښار یو شمېر سیمې یې آزادې کړې. د وروستيو ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د تلې پر ۲۰مه ښار تصفیه شو خو لا هم د دولت مخالف وسله وال د ښار په شاوخوا کې شته او د افغان دولت د امنیتي ځواکونو پر وړاندې جګړه کوي. پایله دا، چې د ۱۵ ورځو لپاره د کندز ښار د دولتي ځواکونو او وسله والو مخالفانو تر منځ د جګړې ډګر ؤ.

په کندز ښار د دولت د وسله والو مخالفانو د بریدونو له پیل څخه د ښار تر نیولو او بیا تر اوسه، د دولت د مخالفو



د چپلکو سرای

وسله والو له خوا د بشري حقونو پراخ او ښکاره نقض ترسره شوی او د غیر نظامي عامو وګړو، چې په جګړه کې یې هیڅ نقش نه درلود، د قرباني کېدو باعث ګرځېدلی.

د ګزارش په دې برخه کې د بشر دوستانه حقونو اړوند هغه قواعد، چې د کورنیو وسله والو شخړو ځانګړې کوي او د بشري حقونو موازین چې په هر حالت (سوله او جګړه) کې د رعایت وړ دي د کندز د وسله والې شخړې په بهیر کې نقض شوي دي، چې دواړه به بېل بېل وارزول شي.

### د خلکو په نښه شوي او قصدي وژل

ژوند د انسان طبیعي حق او الاهي ډالۍ ده، هیڅوک له قانوني مجوز پرته له دې حق څخه نه محرومیږي.[5] د افغانستان اساسي قانون د بشري حقونو نړیواله اعلامیه او د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون په پوره وضاحت سره دغه حق د بشر د بنسټیز حق په حیث په رسمیت پیژندلی او رعایت یې په هر ډول شرایطو، جګړه او سوله کې الزامي دی.

همدارنګه د ژنو د کنوانسیونونو ۳مه ګډه ماده، د انسان جسم او بدن ته ضرر رسول او خاصتاً وژنه، په هره لاره او شکل چې وي، منعه کړی او د جګړې ښکېلې غاړې یې مکلفې کړې دي، چې دغه بشردوستانه قاعده په هر حالت کې رعایت کړي.[6] قتل د بندیانو قصدي وژنې او د جګړې په سیمه کې په خپل سري ډول د عامو خلکو وژلو ته وایي.

د کمیسیون څېړنیزې موندنې ښیي، چې طالبانو د کندز ښار له نیولو وروسته، یو شمېر خلک وژلي، کمیسیون ته هغه ۳ تنه عام وګړي تثبیت شوي، چې لومړی له کورونو نیول شوي او بیا په ډېر بد ډول وژل شوي دي. طالبانو په دې دلیل چې دولتي ادارو سره تړلي خلک دي، دوی وژلي دي. لکه څنګه چې مخکې روښانه شوه، په خپل سري ډول د خلکو وژل په هر حالت او شرایطو کې منعه دي او له بشر دوستانه بین المللي حقونو او د بشري حقونو له موازینو ښاره سرغړونه شمېرل کیږي.

### د غیر نظامي وګړو په نښه کول

د جګړې ټول کورني او بین المللي اړخونه، مکلف دي، چې د خلکو تر منځ د وسله والو شخړو پر مهال، غیر نظامي اموال او سیمې په نښه نکړي. دا د بشر دوستانه قواعدو لومړی او بنسټیز اصل دی او په ټولو وسله والو شخړو کې د پلي کېدو وړ دی.

د کمیسیون د کارکوونکو له خوا موندل شوي شواهد او مدارک ښیي، چې په کندز ښار کې د وسله والې شخړې په بهیر کې، شاوخوا ۵۰ تنه ملکي وګړي وژل شوي او له ۳۵۰ زیات ټپیان شوي دي، چې د ۱۳ ماشومانو او ۷ ښځو

۵ . د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، اساسي قانون، په ۱۳۹۲ کال کې تصویب شوی، ۲۳مه ماده.

۶ . د سره صلیب بین المللي کمېټه، د ژنو بین المللي کنوانسیونونه، ۱۹۴۹ کې تصویب شوی، ماده ۳مه مشترک

په ګډون ۶۲ ټپیان د تخار ولایتي روغتون ته وړل شوي. له دوی څخه یو یې، چې د شپې لېسې سرمعلم و د دولت د مخالفو وسله والو له خوا وژل شوی. د کمیسیون د یو کارکوونکي د څرګندونو له مخې، چې یو عیني شاهد دی؛ ۱۵ تنه ملکي وګړي له خپلو کورونو د تېښتې پر مهال په میدان پخته سیمه کې پر لاره روان ؤ، چې په نښه شول او ووژل شول. ۵ نور ملکي وګړي د کندز په بالاحصار سیمه کې ووژل شول او ۲۵ تنه ټپیان شول.

د یادونې وړ ده، چې پورتني ارقام په کندز کې له فعالو روغتونونو څخه ترلاسه شوي دي و هغه ملکي وګړي، چې وژل شوي یا ټپیان شوي خو روغتون ته نه دي وړل شوي، په دې ارقامو کې نه دي شامل. پر همدې بنسټ، د ملکي مرګ ژوبلې شمېر په دې ګزارش کې له راغلو شمېرو څخه څو چنده زیات دی او د دې ارقامو دقیق ترلاسه کول، لا نورې څېړنې غواړي.

همدارنګه د بې پولې ډاکټرانو په وینا د ۱۳۹۴ کال د تلې پر ۱۱مه د دوشنبې ورځ په کندز ښار کې د بې پولې ډاکټرانو د سازمان پر شفاخانه د دولت د ملاتړو بین المللي هوایي ځواکونو د برید په ترڅ کې ۲۲ تنه (۱۲ د دې روغتون کارکوونکي او ۱۰ ناروغان) وژل شوي او ۳۷ تنه ( ۱۹ د روغتون کارکوونکي او ۱۸ ناروغان) ټپیان شوي دي.

لکه څنګه چې مخکې روښانه شوه، ملکي خلک باید په نښه نه شي. هغه بریدونه، چې موخه یې د ملکي وګړو په منځ کې د وېرې او وحشت خپرول وي، منعه دي.[7] پر همدې بنسټ د غیر نظامي خلکو او سیمو په نښه کول د بین المللي بشردوستانه حقونو د اصولو او قواعدو سرغړونه ده او د وسله والو شخړو ټول ښکېل اړخونه مکلف دي، چې دغه انساني او بشري قواعد ومني او د غیر نظامي افرادو او سیمو د ساتنې لپاره لازم تدبیرونه و نیسي.

## جنسي تېری

جنسي تېری د انساني کرامت ښکاره نقض دی، د اساسي قانون د څلرویشتمې مادې له مخې، د انسان آزادي او کرامت له تیري خوندي دی، ځکه انساني کرامت هم د بشر له بنسټیزو حقونو څخه دی او هم د بشر د حقونو له اساسي اصولو څخه. پر همدې بنسټ په هیڅ حالت کې (جګړه او سوله)، هیڅوک نه شي کولای له دې بنسټیزې قاعدې سرغړونه وکړي. د ژنو د کنوانسیون په ۳مه مشترکه ماده او د بشر دوستانه حقونو په ټولو لازم الرعایه اسنادو کې، جنسي تېری منعه شوی او ټاکل شوې، چې د وسله والې شخړې ټول اړخونه انساني کرامت ته احترام وکړي او د جنسي تیري مرتکب نه شي.

د یادو بین المللي اسنادو له مخې، د جنسي ناوړې ګټې اخستنې ټولې بڼې، چې په زور، تهدید او وېرولو ترسره شي، منعه دي او ارتکاب یې د عاملانو د مسولیت سبب ګرځي.

د کمیسیون د کارکوونکو له خوا یو شمېر ترلاسه شوي شواهد او دلایل ښیي، چې د کندز د جګړې په بهیر کې، د

۷ . د سره صلیب نړیواله کمیټه، د ژنیو کنوانسیونونو دویم الحاقي پروتوکول، بند ۲، ماده ۱۳مه.

دولت وسله وال مخالفان د جنسي تیري مرتکب شوي، په همدې ترتیب یو شمېر بین المللي سازمانونو او رسنیو هم د دې جنایت په اړه رپوټونه خپاره کړي. همدارنگه د جمهوري ریاست مقام هم د یوې اعلامیې په خپرولو اعلام کړه، چې «طالبانو د خلکو پر عزت او ناموس تېری کړی»[8] له دې ور هاخوا یو شمېر بې ځایه شویو هم د کمیسیون کارکوونکو ته ویلي، چې پر یو شمېر ښځو یې په طالبانو پورې د تړلو افرادو له خوا تیری شوی.

خو امنیتي او سنتي-ټولنیزو حدودیتونو ته په پام سره، د تیري قربانیان ډېر کم د نظر اظهار کوي او له بل پلوه، دا چې لا هم د کندز ښار نا امنه دی او عیني شاهدانو ته کافي لاسرسی نشته، کمیسیون نه دی توانېدلی، چې د استناد وړ دلایل، مدارك او شواهد د تیري د اثبات لپاره ترلاسه کړي. په دې برخه کې څېړنې روانې دي او په بل تفصیلي رپوټ کې به د څېړنې پایلې خپرې شي.

**له انساني سپر څخه استفاده**

بین المللي بشردوستانه حقونو د وسله والو شخړو په بهیر کې له انساني سپر څخه استفاده منعه کړې، لکه څنگه چې د ۱۹۴۹ ژنو کنوانسیون په ۲۸مه ماده کې راغلي «هیڅوك نشي کولای له هغو خلکو څخه چې د ملاتړ وړ دي د یو شمېر سیمو د ساتلو او جگړه ییزو عملیاتو لپاره گټه واخلي».

خو د کمیسیون موندنې ښیي، چې د دولت وسله والو مخالفانو تل خپلو نظامي موخو ته د رسېدو لپاره له انساني سپر څخه گټه اخستې او له انساني سپر څخه گټه اخستنه یې یو جنگي تاکتیك دی. د کندز په جگړه کې هم د دولت وسله والو مخالفینو له دې تاکتیك څخه گټه اخستې او نظامي او خپلې وسلې یې د استوگنې په کورونو کې ایښې دي څو له دې لارې دغه اهداف د دولت د امنیتي ځواکونو له خوا په نښه نه شي. د دولت د وسله والو مخالفینو ډېری سنگرونه د استوگنې په سیمو کې ؤ، چې لا له عامو خلکو څخه نه وې تخلیه شوې.

لکه څنگه چې مخکې یادونه وشوه، له کورونو او د اوسېدو له سیمو څخه گټه اخستنه، چې هلته ملکي وگړي شته او ژوند کوي او یا د استوگنې سیمو ته د جگړې غزول، په بین المللي بشردوستانه قوانینو کې له انساني سپر څخه گټه اخستنه گڼل کیږي او د بین المللي جزایي محکمې د اساسنامې ۸مې مادې ۲ بند ب جز ۲۳شق له مخې « د وسله والې شخړې پر مهال د اوسېدو له سیمو یا غیر نظامي خلکو څخه د عملیاتو په مقابل کې د سیمو یا ځانگړو نظامي ځواکونو د ساتلو لپاره گټه اخستل، جنگي جنایت شمېرل کیږي.»

**برمته کول**

د غیر نظامي او بې گناه خلکو برمته کول اشغال شوی قلمرو دی، چې په غیر قانوني ډول، غالباً په زور سره یا د مرگ په تهدید سره، له خپلې آزادۍ محرومیږي.[9] د خلکو له نیولو او بندیانولو څخه د مقابل لوري پر وړاندې د مخکې له مخکې اقدام، یا له مقابل لوري څخه د وعدې د اخستلو لپاره او یا هم د مقابل لوري د وېرولو او ځپلو

۸ . د جمهوري ریاست دفتر، مطبوعاتي اعلامیه، د خپرېدو نېټه ۱۰ د میزان ۱۳۹۴، لینك: http://president.gov.af/fa/news/۵۳۳۹۹

۹ . گریانگ ساك کیتی شیایزری، **حقوق بین المللی جزایی**، ص ۲۹۲



د حاجي میري کوڅې دوکان

لپاره ګټه اخستل کیږي. برمته کول که په هره موخه ترسره شوي وي د ژنو د څلورګونو ګډو کنوانسیونونو د دریمې مادې او ټولو شته اسنادو له مخې ممنوع دي.

د کندز د قضیې د څېړنې او ارزونې پر مهال کمیسیون موندلې چې د دولت وسله وال مخالفین له ۱۰۰ تنو زیات ملکي وګړي او د امنیتي ځواک منسوبین برمته کړي او بیا د خپلو څارنوالانو او قاضیانو له خوا د یو شمېر څېړنو د ترسره کولو وروسته یې یو شمېر خوشې کړي او یو شمېر نور یې نا معلوم ځای ته وړي. که څه هم د خوشې شویو او تښتول شویو شمېر دقیقاً معلوم نه دی خو یو تن خوشې شوي د کمیسیون کارکوونکو ته ویلي، چې په دولتي ادارو کې د کار نه کولو له سوګند وروسته خوشې کړای شوي دي.

## د خصوصي او عمومي مالونو تخریب او تالان

د کندز ښار له سقوط وروسته د دولت مخالفو وسله والو ټول دولتي دفترونه او ادارې په دریو مرحلو کې چور کړې او کم تر کمه شپږ دولتي ادارې ( د ولایتي شورا دفتر، ښاروالي، له نشه یي توکو سره د مبارزې مدیریت، د پولیسو لومړۍ حوزه، د کلو د پراختیا ریاست او د ښار جوړونې ریاست) همدارنګه په کندز کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر (یوناما) یې سوځولي دي. رسمي او دفتري امکانات، لکه نقلیه وسایط، کامپیوټرونه، میزونه، چوکۍ او حتا



د سرچوک دوکان

رسمي او دولتي اسناد یې له یادو ادارو څخه تښتولي او د جنګي غنیمت په ډول یې مصادره کړي دي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون سیمه ییز دفتر، د ملګرو ملتونو سیمه ییز دفتر (یوناما)، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ سیمه ییز دفتر، د ولایت مقام دفتر او... هغه دفترونه دي، چې د طالبانو له خوا لوټ شوي او مالونه، شته او امکانات یې چور شوي دي.

له عامه او دولتي ادارو ور هاخوا، د خصوصي بانکونو ځینې نمایندګۍ هم چور شوې دي او اداري او دفتري وسایل یې لوټل شوي دي. په عین حال کې د کندز ښار په بېلابېلو سیمو کې ۱۹ دوکانونه د جګړې پر مهال سوځېدلي دي، چې په پایله کې یې د دوکانونو مالکانو ته ډېر زیان اوښتی دی. په داسې حال کې چې د کورنیو داخلي شخړو څارونکې د ژنیو ۱۹۴۹ ګډو کنوانسیونونو ۳مه ماده د عمومي او خصوصي مالونو تخریب او لوټل منعه کړې او د جګړې ښکېلې غاړې نه باید خصوصي، عمومي شته او حتا هغه اموال چې په متخاصم مقابل لورې پورې اړه ولري، څنګه یې چې زړه غواړي له منځه یوسي او لوټ یې کړي.

**کورنۍ بې ځایه کېدل**

د خلکو او غیر نظامي افرادو د اجباري کډوالۍ مخنیوی، د داخلي وسله والو شخړو د ناظرو بشردوستانه حقونو له لازم لاجرا قوعدو څخه یوه قاعده ده؛ په جګړه کې ښکېلې غاړې نه باید د وسله والې شخړې اړوند دلایلو له مخې، ملکي وګړي (په مستقیم یا غیر مستقیم ډول) اړباسي، چې د خپلې استوګنې ځای پرېږدي.[10] غیر مستقیم اړیستل په دې معنا، چې کله هم خلک په فزیکي ډول د اوسېدو سېمې پرېښودو ته نه اړیستل کېږي، بلکې د شخړې یو لوری په وېرولو او د وحشت په خپرولو سره د خلکو بې ځایه کېدو ته زمینه برابروي او په اجباري ډول د خلکو د کوچېدو باعث ګرځي.

طالبانو په کندز کې د وسله والې شخړې په بهیر کې د تهدیدولو، د استوګنې د کورونو په نښه کولو او د بشردوستانه حقونو د پرله پسې نقض له لارې په تخمیني ډول شاوخوا ۱۴۰۰۰ کورنۍ، چې په اوسط ډول له ۷۰څخه تر ۱۰۰ زره تنه کېږي، د استوګنې د ځاینو پرېښودو ته اړیستي دي. ډېری بې ځایه شوي کابل، تخار، بغلان، مزار شریف، سمنګان او بدخشان ولایتونو ته تبنتېدلي دي. له دوی څخه یو شمېر کورنۍ نه یواځې دا چې د استوګنې ځایونو پرېښودو ته اړ شوي بلکې د هیواد شمالي پولو ته رسیدلي او د ژوند بد شرایط یې لیدلي دي. په کندز ښار کې د وسله والې شخړې له امله د بې ځایه شویو خلکو د وضعیت تړینګلتیا ته په کتو د عرفي بشردوستانه حقونو د ۱۳۱قاعدې له مخې باید ټول ممکن اقدامات ترسره شي، څو بې ځایه شوي عام خلک د سرپناه، اوسېدو، روغتیا او تغذیې له اړخه مناسب وضعیت ولري.[11]

### د رسنیو له منځه وړل او د خبریالانو، د بشري حقونو او مدني ټولنې د فعالانو وېرول او تهدیدول

غیر نظامي خبریالان په وسله والو شخړو کې د احترام او ملاتړ وړ دي، د خبریالانو پر وړاندې د بریدونو له مخنیوي ور هاخوا، شته عرفي چلندونه هم داسې وي، چې خبریالان د یوې وسله والې شخړې اړوند د خپلو مسلکي فعالیتونو د ترسره کولو پر مهال باید ملاتړ شي. دا قاعده د یوې عرفي قاعدې په حیث په بین المللي او داخلي وسله والو شخړو کې د پلي کېدو وړ ده. همدارنګه له دې قاعدې څخه دا په لاس راځي، چې له خبریالانو پرته، د بشري حقونو او مدني ټولنې فعالان هم د دې قاعدې له مزایاوو برخه من شي. ځکه د جګړې پرمهال د دوی مصونیت پر غیرنظامیانو د برید د ممنوعیت تر اصل لاندې راځي.

پر خبریالانو د برید تر څنګ، د کندز د جګړې په بهیر کې د سیمه ییزو رسنیو ۷دفترونه لوټل شوي او دفترې او کاري وسایل یې چور شوي دي؛ روشني، چراغ، زهره، کیهان، د کندز راډیو، بدلون راډیو او ملي راډیو ټلویزیون هغه سیمه ییزې رسنۍ دي، چې د دولت وسله والو مخالفینو له منځه وړې او لوټلې یې دي.

په عین حال کې طالبانو خبریالان، د مدني ټولنې او بشري حقونو فعالان د مخکې له مخکې ټاکل شوي لیست له مخې تعقیب کړي او پر کندز ښار له ولکې وروسته ور پسې ګرځېدلي دي.

---

۱۰ . د سره صلیب نړیواله کمېټه، د ژنو کنوانسیونونو دویم الحاقي پروتوکول، ۲بند، ۱۷مه ماده.

۱۱ . د سره صلیب نړیواله کمېټه، بین المللي بشردوسانه عرفي حقوق، لومړی جلد، خپرندوی مجمع علمی و فرهنگی مجد، لومړی چاپ ۱۳۸۷، قاعده۱۳۱، ص۶۶۲

همدارنګه طالبانو د ۱۳۹۴ کال د تلې پر ۲۰مه د نظامي چارو د کمېټې په اعلامیه کې ویلي، چې طلوع نیوز او یک- ټلویزیون د دوی نظامي اهداف دي او د دښمنانو په څېر چلند به ورسره کوي. طالبانو همدارنګه په دې اعلامیه کې لیکلي، چې «له دې وروسته د دې تلویزیونونو هیڅ کارکوونکی، ویاند، دفتر، خبري ټیم او د دې ټلویزیونونو خبریالان مصونیت نه لري». په داسې حال کې چې د ژنو د کنوانسیونونو د دویم پروتوکول، څلورمي مادې دویم بند وایي؛ په وېره اچونه تروریستي اعمالو د رسنیو او د ملاتړ وړ افرادو تهدیدول د بشري حقونو د موازینو او په ځانګړي ډول د بشردوستانه حقونو ښکاره سرغړونه ده.

**د زندانیانو د تېښتې لپاره زمینه برابرول**

د دولت وسله وال مخالفین، چې څنګه د کندز ښار ته ننوتي د کندز د مرکزي محبس دروازې یې د ټولو محبوسینو او تقیف شویو پر مخ پرانستې دي او د ٦٥٩ تنو زندانیانو (۱۱۱توقیف شوي، ۴۹۱ بندیان او ۵۷ د ماشومانو د اصلاح او روزنې د مرکز محجوزین) لپاره یې د تېښتې زمینه برابره کړې ده.

ډېری تښتېدلي زندانیان په مجازاتو محکوم شوي و او د خطرناکو جرمونو، له قتل، جنسي تیري او وسله والې غلا په جرمونو محکوم شوي ول، طالبانو هغو ته د تېښتې زمینه برابره کړه، څو په جګړه کې یې د افغانستان د دولت پر



د چوک شمال خواته دوکانونه

ضد وکاروي.

د تبنتېدلو زندانیانو په منځ کې، ۳۵ تنه ښځې بندیانې هم وې؛ يو شمېر سرچینو ادعا کړې، چې طالبانو دغه زندانیان له ځان سره وړي، خو د باور وړ دلایل او شواهد نشته او د دې تبنتېدلو زندانیانو د سرنوشت په اړه هيڅ خبر نشته.

د دولت د وسله والو مخالفينو دغه عمل د هیواد له نافذو قوانینو سرغړونه او د هغو قربانیانو د حقونو ښکاره نقض دی، چې د تبنتېدلو مجرمانو له خوا نقض شوي دي، له بل پلوه هغه مجرمين چې په دې ډول تبنتېدلي دي، په متکررو مجرمانو بدليږي، يو ځل بيا هم جرمونه کوي او د ټولو هيوادوالو حقونه به له خطر سره مخ کړي.

**انساندوستانه مرستې**

پر کندز ښار د مخالفو وسله والو د برید له پیله، د ښار ټول اوسېدونکي د سرپناه، ښوونيزو خدماتو، صحي خدمتونو، اوبو او خوړو ته د لاسرسي له حق او ټولو عمومي خدماتو لکه برېښنا او ترانسپورټ څخه محروم شوي دي. دغه حقونه د خلکو منل شوي حقونه او د عزتمند ژوند اساسي شرايط دي. په عين حال کې د ژنو ۱۹۴۹ کنوانسيونونو د دويم پروتوکول د ۱۴مې مادې له مخې «غير نظامي خلك لوږې ته ورکول، د کورونو نړول، د خوراکي موادو بندول او د څښلو له اوبو څخه د خلکو محرومول منعه دي.»

د کميسيون د څېړنيزو موندنو پر بنسټ، په کندز ښار کې د جګړې له پيل څخه تر اوسه، ټول پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې تعطيل شوې دي او محصلين د روان سمستر له درسونو محروم شوي. ۱۱۳ ښوونځي، چې ۲۳ يې لېسې دي، تړل شوي دي او شاوخوا ۱۰۰زره زده کوونکي له ښوونيزو خدمتونو محروم شوي دي. د ښوونځيو او پوهنتونونو له بيا پيل کېدو سره بيا هم د جنګ له امله پر زده کوونکو او محصلينو ناوړه رواني اغېزې پاتې دي او شايد د راتلونکي سمستر تر پايه هم په ښوونځيو او پوهنتونونو کې تدريس او زده کړه عادي حالت ته را و نه ګرځي.

۱۰ شخصي او دولتي روغتونونه او کلنيکونه تړل شوي ؤ او نږدې ۳۰۰ زرو تنو د ۱۵ ورځو لپاره د څښلو اوبو او برېښنا ته لاسرسی نه درلود. په عين حال کې د جګړې پر مهال د کندز ښار ټول اوسېدونکي د دولت د مخالفو وسله والو له خوا کلابند شوي ول او مواصلاتي لارې تړل شوې وې.

د کميسيون څېړنيزې موندنې ښيي، چې په کندز ښار، ګاونډيو ولايتونو او کابل ښار کې د متضررو غير نظامي افرادو او عامو خلکو وضعيت ناوړه دی او د دولتي او غير دولتي انساندوستانه مرستو لپاره اړتيا ده. په عين حال کې «بې ځايه شوي افراد حق لري، چې په داوطلبانه ډول، ژر تر ژره د شرايطو په ښه کېدو سره خپلو کورونو او د استوګنې ځايونو ته ستانه شي.»[12]

**پايله**

۱۲ . د سره صليب بين المللي کمېټه، بين المللي بشردوستانه عرفي حقوق، ۱۳۲قاعده، ۶۶۹مخ.

د دې گزارش موندنې ښيي، چې په کندز ښار کې د وسله والې شخړې په بهير کې، د داخلي وسله والو شخړو ناظر قواعد، چې د ژنيو ۱۹۴۹ کنوانسيونونو دريمه ماده او د ياد کميسيون دويم الحاقي پروتوکول او د بشردوستانه حقونو اړوند عرفي قواعد په پراخ ډول نقض شوي او تر پښو لاندې شوي.

په نښه شوې او خپلسرې وژنې، ملکي مرگ ژوبله او د غير نظامي افرادو او سيمو په نښه کول، جنسي تېری، تخريب، د کورونو، او مالونو لوټ مار، له انساني سپر څخه استفاده، برمته کول، عمومي خدماتو ته د خلکو پر لاسرسي محدوديت لگول(لکه غواړه، اوبه، صحي خدمات، برېښنا او ترانسپورت او...) د مواصلاتي لارو تړل، د زندانيانو تېښتې ته زمينه برابرول او خلک اړيستل چې د استوگنې سيمې پرېږدي، دا ټولې هغه سرغړونې دي، چې د کندز د وسله والې شخړې په بهير کې شوې دي او د دې ټولو سرغړونو مسولين، د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون له بريد پرته، د طالبانو ډله او ور پورې تړلي افراد دي.

د بشردوستانه حقونو سخت او پراخ نقض د اړوندو بين المللي اسنادو له مخې جنگي جنايت دی، چې بايد هر اړخيزه ارزونه يې وشي او مرتکبان يې د قانون منگولو ته وسپارل شي. د کندز په وسله واله شخړه کې، لکه څنگه چې د گزارش په متن کې په صراحت راغلي، جنگي جرم ترسره شوی او د لا نورې څېړنې او ارزونې له لارې به يې نور پراخ ابعاد هم روښانه شي.




الکوزی شرکت

**وړاندیزونه**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د هغه څه پر بنسټ، چې په ګزارش کې راغلي، لاندې موارد د افغانستان دولت، نړیوالې ټولنې او د دولت وسله والو مخالفو ډلو ته وړاندیز کوي او له ټولو ښکېلو غاړو غواړي، چې د کمیسیون سپارښتنو ته جدي پام وکړي:

1. د دولت وسله والو مخالفینو ته یو ځل بیا یادونه کیږي، چې د دولت د مخالفو باغیانو په شمول د داخلي وسله والې شخړې ټولې غاړې د ژنو ۱۹۴۹ کنوانسیونونو د مفادو له مخې او د هغې د الحاقي پروتوکولونو او د عرفي بشردوستانه حقونو له مخې، الزاماً باید په وسله والو شخړو کې بشردوستانه قواعد رعایت کړي او له دې منل شویو قواعدو څخه سرغړونه و نه کړي.

2. د دولت مخالفو وسله والو ته یو ځل بیا توصیه کیږي، چې له جګړې لاس واخلي او دې شخړې ته، چې هره ورځ پکې د دې هیواد بې ګناه وګړي قرباني کیږي، د پای ټکی کیږدي. د بشري او بشردوستانه نه سلبېدونکو حقونو له موازینو سرغړونه ممنوع ده او نقضوونکي یې په ټولو حالاتو، شرایطو او په هر وخت کې تر عدلي تعقیب لاندې دي.

3. د افغانستان له دولته په کلکه غوښتنه کیږي، چې د کندز ښار د سقوط قضیه هر اړخیزه و ارزوي او د بشري



د مدرسې څلورلارې پر سړک شخصي ودانۍ

او بشردوستانه حقونو د نقض مواردو ته رسیدګي وکړي، ټول هغه افراد چې د دولت وسله والو مخالفینو ته منسوب دي او د بشري او بشردوستانه حقونو د نقض مرتکبین دي، پوښتنه ترې وکړي او تر عدلي تعقیب لاندې یې و نیسي، څو خلکو ته د ځواب ویلو زمینه برابره شي.

4. کمیسیون د افغانستان دولت ته وړاندیز کوي، که چېرې د جنګي مجرمینو تعقیب او د جنایاتو څېړنه نشي کولای او یا د پام وړ امکانات نه لري، چې رسیدګي ورته وکړي، د جنګي جرمونو قضیې بین المللي جزایي محکمې ته ارجاع کړي، څو د دې جنایتونو مرتکبان معاف نشي او خپلې سزا ته ورسیږي.

5. د افغانستان دولت او بین المللي ملاتړو ځواکونو ته وړاندیز کیږي، چې د بشري او بشردوستانه حقونو اړوند اصول او قواعد په جدي ډول رعایت کړي او د تفکیک د اصل له مخې، د غیر نظامیانو د ځان، مال او انساني کرامت ساتنه وکړي.

6. د بشري او بین المللي بشردوستانه حقونو په برخه کې د افغان دولت ژمنو ته په کتو اړوندو دولتي بنسټونو( د ملي دفاع وزارت، د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت عمومي ریاست) ته وړاندیز کیږي، چې خپلو ټولو منسوبینو او وسله والو ځواکونو ته، د بشري او بشر دوستانه قوانینو زده کړه ورکړي او له دې موازینو څخه د سرغړونې په صورت کې یې تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي.

7. د افغانستان دولت باید د خسارې د جبران قانون تصویب کړي او د جنګ له امله متضررو افرادو او کورنیو ته د غرامت ورکړه په قاعده برابره کړي او د خسارې د جبران حق او د غرامت عملي ورکړه تضمین کړي.

8. کمیسیون له افغان دولت او بین المللي ملاتړو یې غواړي، چې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون د بمبار قضیه په جدي ډول او هر اړخیزه و څېړي او د ارزونو پایلې هیوادوالو ته وړاندې کړي.

9. له اړوندو دولتي بنسټونو هیله کیږي، چې ټولې انسان دوستانه ملي او بین المللي مرستې همغږې او منظمې کړي او له هغو افرادو سره چې په کندز ښار کې بند پاتې ؤ او هغه خلک چې د هیواد بېلابېلو ولایتونو ته بې ځایه شوي، مرسته او ملاتړ یې وکړي.